# د الله پاک پټ تدبیر

06-April-2024



د شبِ قدر د اجتماع بیان

(for Islamic Brothers)

د شبِ قدر د اجتماع بيان

(پهٔ 27 رَمَضَانُ الْمُبَارَك كال 1445ھ/ 6 اپريل 2024ء)

# د الله پاک پټ تدبير

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... دوزخ ته بوتلونکې دوه بدۍ
- ...د 70 زاهدانو عبرتناک انجام
- ... د بَدې خاتمې څلور اسباب
- ... د ښې خاتمې د پاره مَدَني ګلونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: چا چې په ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک ولوستو **الله** پاک په هغهٔ باندې لس رحمتونه نازلوي او چا چې لس کرته درود ولوستو، **الله** پاک په هغهٔ باندې سل رحمتونه نازلوي او چا چې سل کرته درود شریف ولوستو، **الله** پاک د هغهٔ د دواړو سترګو تر مینځه ولیکي چې دا بنده د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغهٔ به د قیامت په ورځ د شهیدانو سره ساتي. [1]

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحسن پر | سدا سلام کہو عمر بھر دُرود پڑھو
عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو | خدا کی تم پہ ہو رَحمت اگر دُرود پڑھو [2]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. [1]

---

1 ...معجم اوسط، جلد:5، صفحہ:252، حدیث:7235۔
2 ...نورِ ایمان، صفحہ:57۔



www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! ښهٔ نيت بنده جنت ته رسوي، د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ عِلمِ دِين به زده کووم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسَلَّم پهٔ پاک نوم اوريدو به درودِ پاک لولم.

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

پهٔ تفسيرِ عزيزي کښې دي: يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسَلَّم د تيرو اُمتونو او د هغوئي د ډيرو عمرونو پهٔ باره کښې غور ووفرمائيلو او د خپل اُمت لږو عمرونو ته يې وکتل نو د اُمَّت د غمخور، تاجدارِ رسالت صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسَلَّم زړهٔ مبارک د شفقت نه راډک شو، هغوئي صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسَلَّم پهٔ دې سوچ کولو غمژن شو چې که زما اُمت ټول ژوند ډيرې ډيرې نيکئ وکړي نو بيا هم د تيرو اُمتونو برابري نشي کولے.

دلته د محبوبِ رَبِّ اکبر، شاهِ بحر و بر صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسَلَّم زړهٔ مبارک غمژن شو، هلته د الله پاک رحمت پهٔ جوش کښې راغلے او الله پاک د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسَلَّم د تسلئ د پاره هغوئي ته د ليلةُ القدر تحفه عطا کړله. [2] ارشاد وشو:

اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰهُ فِیۡ لَیۡلَةِ الۡقَدۡرِ ۚ﴿۱﴾ وَ مَاۤ اَدۡرٰىكَ مَا لَیۡلَةُ الۡقَدۡرِ ؕ﴿۲﴾ لَیۡلَةُ الۡقَدۡرِ ۬ۙ خَیۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَهۡرٍ ؕ﴿۳﴾ تَنَزَّلُ الۡمَلٰٓئِكَةُ وَ الرُّوۡحُ فِیۡهَا بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ ۚ مِنۡ كُلِّ اَمۡرٍ ۙ﴿۴﴾ سَلٰمٌ ۟ۛ هِیَ

[مفهوم]ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيشکه دا قرآن مونږه په شبِ قدر کښې نازل کړو(۱) او تا ته څه معلومه چې شبِ قدر څه دہ؟(۲) شبِ قدر د زرو مياشتو نه بهتره دہ(۳) په دې شپه کښې فرښتې او جبريل د خپل **رب** په

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔
2...تفسیرِ عزیزی، جلد:3، صفحہ:257 ماخوذاً۔



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿۵﴾ (پارہ30،سورۃالقدر:1تا5) | حُکم د هر کار د پاره راکوزيږي(٤) دا شپه د سحر راختلو پورې سلامتي ده(٥) |

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د اُمتيانو فِکر شو نو **الله** پاک د هغوئي د زړۀ ساتلو د پاره اُمّت ته د شبِ قدر پشان عظيم الشان نعمت عطا کړو. مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان بيانولو کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| جتنا میرے خدا کو ہے میرا نبی عزیز | کونین میں کسی کو نہ ہو گا کوئی عزیز |
| جو کچھ تری رضا ہے' خدا کی وہی خوشی | جو کچھ تری خوشی ہے' خدا کو وہی عزیز |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** نن د رَمَضَانُ الْمُبَارَك 27 **[اووه ويشتمه] شپه** ده او د علمائے کرامو اکثريت دا وائي چې هم د رَمَضَانُ الْمُبَارَك پۀ 27 **[اووه ويشتمه] شپه "شبِ قدر"** وي. [1] لہٰذا اُمِّيد کوو چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن شبِ قدر دے ❁ نن د بخښنې شپه ده ❁نن د رحمت شپه ده ❁ نن هٰغه شپه ده کومه چې د زرو مياشتو نه بهتره ده ❁نن د سلامتيا شپه ده، د حضرت عبد الله بن عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله شبِ قدر راشي نو د **الله** پاک پۀ حکم حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د يوې شنې جنډې سره د فرښتو د ډير غټ فوځ سره زمکې ته راکوز شي او هغه شنه جنډه پۀ کعبه شريفه باندې ولګوي، د يو روايت مطابق د هغه فرښتو شميره پۀ مخ د زمکې د کاڼو نه هم زياته وي، دا ټولې [فرښتې] سلام

[1]...فيضانِ رمضان، صفحہ:199۔



www.dawateislami.net

او رحمت راوړي او نازليږي. **پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** د حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام 100 وزرې دي، پهٔ کومو کښې چې دوه وزرې صرف پهٔ دې شپه برسيره کوي، هغه وزرې پهٔ مشرق او مغرب کښې خورې شي، بيا حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام فرښتو ته حکم کوي چې کوم مسلمان نن شپه پهٔ نـمونځ يا ذِکرُ الله کښې مشغول دے د هغهٔ سره مصافحه وکړئ او د هغهٔ پهٔ دعاګانو باندې آمين هم ووايئ. نو فرښتې د هغوئي پهٔ حکم باندې عمل کوي او تر سحره پورې هم دا سلسله روانه وي. [1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** نن د برکتونو شپه ده، **الله** پاک دې د دې مبارکې شپې پهٔ وسيله مونږه بے حسابه اوبخښي.

| | |
|---|---|
| مغفرت کا ہوں تجھ سے سُوالی | پھیرنا اپنے دَر سے نہ خالی |
| مجھ گنہگار کی اِلتجاء ہے | یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے |
| آہ! رَنج و اَلَم نے ہے مارا | یااِلٰہی! مجھے دے سہارا |
| ایک غمگیں دِل کی صدا ہے | یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے[2] |

## د قرآنِ پاک يو ښکلے تعليم

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** شبِ قدر د قرآنِ کريم د نازليدو شپه ده، پهٔ دې مناسبت سره د قرآنِ کريم پهٔ ښکلو تعليماتو کښې يو اهم تعليم کوم چې د يوې شپې، يوې مياشتې، يوې ورځې يا يوې ګينټې د پاره نه بلکې د ژوند د هر سعت د پاره دے، دا د يو احساس او د يو کيفيت تعليم دے، د کوم پهٔ باره کښې چې پهٔ قرآنِ کريم کښې

[1] ...شعب الایمان، باب فی الصیام، فصل فی لیلۃ القدر، جلد:3، صفحہ:336، حدیث:3695۔
[2] ...وسائلِ بخشش، ص136-137۔



www.dawateislami.net

مونږ له ترغيب راکولے کيږي چې دا احساس مستقل طور په مونږ کښې پکار دے، هغه تعليم، هغه احساس څۀ دے؟ واورئ! **الله** پاک ارشاد فرمائي:

إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوا بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ۝۷ أُولٰٓئِكَ مَأْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝۸ (پاره:11، يونس:7،8)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيشکه هُغه خلق کوم چې زمونږ سره د ملاقات اميد نه لري او د دُنيا ژوند ئې خوښ کړے دے او په دې مطمئن شوي دي او هُغه خلق کوم چې زمونږ د آيتونو نه غافِل دي(۷) د هُغه خلقو ځائے د هغوئي د اعمالو په بدله کښې دوزخ دے(۸)

د دې آيت مبارک نه پۀ مخکښينو آيتونو کښې دا خبره د دليلونو سره واضحه کړے شوه چې دا دُنيا فاني ده، د دې دُنيا هر څيز مسلسل د خپلو ختميدو پۀ لور روان دے، ډيره زر به دا دنيا تباه او برباده شي، بيا به قيامت قائم شي او ټول به د **رَبِّ** کريم پۀ حُضُور کښې حاضرولے شي. دا خبره د دليلونو سره د واضحه کولو نه پس **الله** پاک پۀ دې آيتونو (يعني پۀ آيت: 7 او 8) کښې د کافرو څلور بدئ بيان کړې دي. **(1):** کُفّار د قيامت پۀ ورځ د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې د حاضرئ طمع نه لري يعني ❁ د هغوئي پۀ زړونو کښې نۀ د قيامت ويره شته ❁ نۀ د دوزخ نه ويريږي ❁ او نۀ د جنّت شوق لري. دا د هغوئي وړومبۍ بدي وه **(2):** دويمه بدي يې دا ده چې دا خلق د دنيا عارضي او فاني ژوند خوښوي **(3):** دوئي پۀ دې دنيائي ژوند باندې مطمئين دي **(4):** دا خلق د **الله** پاک د آيتونو نه غافله دي. د دوئي د دې څلورو بدو انجام دا دے چې پۀ آخرت کښې به د دوئي ځائے دوزخ وي. [1]

[1]... صراط الجنان، پاره:11، سورۂ يونس، زير آيت:7-8، جلد:3، صفحه:287-288 بتغير۔

## دوزخ ته بوتلونکې دوه بدۍ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! پهٔ دې آيت مبارک کښې يوه اهمه خبره، د کومې پهٔ لور چې زمونږه پام راګرځولے شوے دے، هغه دا ده چې د دې دُنيا پهٔ ژوند باندې راضي کيدل، پهٔ خپل موجوده حالت باندې مطمئين کيدل دي، دا ګمان پهٔ خپل زړهٔ کښې کښينول چې څنګه زهٔ اوس يم هم داسې به [هميشه] يم، دا د غير مسلمو انداز دے، د يو مسلمان دا شان دے چې ❁ د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې د قيامت ويره وي ❁ هغهٔ د دوزخ نه ويريږي ❁ پهٔ قبر کښې ❁ پهٔ آخرت کښې د راګيريدو نه ويريږي ❁ هغهٔ چرې هم د **الله** پاک د پټ تدبير نه نهٔ بے ويرې کيږي ❁ هغه داسې کله هُم نه کوي چې پهٔ خپل اوسني حالت باندې مطمئين شي او دا ګمان وکړي چې زهٔ څنګه اوس يم، هم داسې به [هميشه] يم.

خو افسوس! نن زمونږه بد حال دے، د **الله** پاک د پټ تدبير نه ويره زمونږه د زړونو نه وتې ده، د دې دُنيا پهٔ ژوند باندې قناعت زمونږ پهٔ زړونو کښې ناست دے، افسوس! زمونږ سره د آخرت غم نه وي ❁ د دُنيا د مال ميلاويدو د پاره خو شپه او ورځ کوشش کيږي خو د دې د پاره هيڅ کوشش نه کيږي چې د قيامت پهٔ حساب کښې به راته کاميابي ميلاويږي او کهٔ نه، د دې راسره هيڅ فِکر نشته ❁ که يو څو سوه يا يو څو زره روپۍ نقصان مو وشي نو پهٔ ګينټو ګينټو پريشانه يُو خو که څهٔ ګناه رانه وشي نو لږ هم نه پريشانه کيږو حالانکه هغهٔ ګناه مونږ د دوزخ پهٔ عذاب کښې اخته کولے شي، ❁ که د يو څو زرو روپو څهٔ څيز رانه ورک شي نو پهٔ ډيره پريشانۍ او فِکر مندۍ سره هغه لټوو خو که څهٔ نيکي رانه پاتې شي، د ثواب نه محرومه پاتې شو نو پهٔ دې پسې هيڅ ارمان نه کوو ❁ که سحر ناوخته راپاڅو او دفتر ته تللو کښې لس منټه ليټ شو نو فِکر راسره وي او پريشانه يُو چې د لسو منټو پيسې به مې د تنخوا نه کټ شي، زمونږه نګران



www.dawateislami.net

[H,O,D]، افسر به خفه شي، ټينشن راسره وي چې اوس که دفتر ته ناوخته لاړ شم نو نګران يا افسر به راته ردې بدې وائي خو که د سحر نـمونځ رانه قضا شي نو د دې راسره هيڅ فِکر نه وي چې آه! نـمونځ مې ونـکړو، **الله** پاک ته به پۀ کومو سترګو مخامخ کيږم، چرې د دې پۀ وجه دوزخ ته غوزار نۀ شم، د **الله** پاک پۀ غضب کښې اخته نۀ شم ❁ څۀ چې مونږ پۀ دې دنيا کښې ګټلې دي، د هغې حفاظت خو ډير پۀ اهتمام سره کوو، د دې د پاره صندوقونه جوړولے شي، پۀ بينکونو کښې لاکر سستم هم استعماليږي، سيکورټي ګارډ هم ساتلے شي خو پۀ زړۀ کښې مو د ايمان دولت دے، دا لازوال دولت، دا بے بها دولت، دا د ټولو نه قيمتي دولت، د دې د حفاظت فِکر د ډيرو کمو خلقو سره وي. يقين وکړئ! د آخرت پۀ معامله کښې چې د دې بے فکرئ کوم حالت دے، دا ډير نقصان رسوونـکے دے. **الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰۤى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا بَيَاتًا وَّهُمْ نَآىٕمُوْنَ ﴿۹۷﴾ اَوَ اَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰۤى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۸﴾ اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾ (پاره:9، الاعراف:97 تا 99) | [مفهوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: آيا د استوګنو [آباديانو] والا د دې خبرې نه بے ويرې شول چې په هغوئي باندې زمونږه عذاب د شپې راشي چې کله هغوئي اُوده وي(۹۷) يا آيا د استوګنو [آباديانو] والا د دې خبرې نه بے ويرې دي چې په هغوئي باندې زمونږه عذاب د ورځې راشي چې کله هغوئي په لوبو کښې اخته وي (۹۸) آيا هغوئي د **الله** د پټ تدبير نه بے ويرې دي نو د **الله** د پټ تدبير نه صرف تباه کيدونـکي خلق بے ويرې وي (۹۹) |

الله! الله! معلومه شوه چې د **الله** پاک د عذاب نه، د هغۀ د ګرفت نه، د هغۀ د پټ تدبير نه نۀ ويريدل د نقصان اوچتوونـکو طريقه ده.



www.dawateislami.net

سدا خفیہ تدبیر سے ربّ کی ڈرنا | سنو! آخرت کا اِسی میں بھلا ہے[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اوياؤ زاهدانو عبرتناک انجام

حضرت وهب بن مُنَبِّه رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: پهٔ بني اسرائيلو کښې 70 زاهدان (يعنې د دنيا سره رغبت نه لرونکي نيکان خلق) وو، پهٔ هغه زمانه کښې د هغوئي پهٔ شان نيکان نور څوک نه وو، **الله** پاک د هغه زماني نبي علیہِ السَّلام ته وحي ووفرمائيله چې دا اويا زاهدان به د دنيا نه کافِران ځي. هغه نبي علیہِ السَّلام پهٔ حيرانتيا سره پوښتنه وکړه: يا **الله** پاکه! د دې څهٔ وجه ده؟ (دا خو ډير نيکان خلق دي، د دنيا سره رغبت نه لري، ډيرې ډيرې نيکئ کوي، نو بيا به د دوئي انجام داسې ولې کيږي؟) **الله** پاک ووفرمائيل: ځکه چې دوئي د خپل انجام نه بے فِکره شوي دي. [2]

اَللهُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صلَّى اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو! غور وکړئ! نيکان خلق دي، د دنيا سره رغبت نه لري، د هغوئي پهٔ زمانه کښې د هغوئي پهٔ شان عبادت کوونکي نور څوک نه وو خو افسوس! د هغوئي انجام خوفناک شو...!! ولې؟ ځکه چې هغوئي بے فِکره شوي وو، هغوئي د خپل انجام پهٔ معامله کښې مطمئين شوي وو، د هغوئي پهٔ زړونو کښې دا احساس راغلے وو چې مونږه پهٔ کوم حالت باندې يو، هميشه به هم پهٔ دې حالت باندې اوسو، بس هغوئي د خپل دې اطمينان، او بے فِکرئ او د **الله** پاک د پټ تدبير نه د نهٔ ويريدلو پهٔ سبب هلاک شول.

---

1...وسائلِ فردوس، صفحہ:31۔

2...سلوۃ العارفین، باب الخوف من سوء الخاتمۃ، جلد:2، صفحہ:165۔



www.dawateislami.net

الٰہی! میں تیری عطا مانگتا ہوں | کرم کی مغفرت کی دعا مانگتا ہوں
بچانا بُرے خاتمے سے بچانا | میں ایمان پر خاتمہ مانگتا ہوں(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د پټ تدبير ويره نه لرل کبيره ګناه ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! ياد ساتئ! د **الله** پاک د پټ تدبير نه نۀ ويريدل (يعني پۀ خپل اوسني حالت باندې مطمئين اوسيدل) ډيره د نقصان خبره ده. صحابئ رسول حضرت عمار بن ياسر رضی اللہ عنہ فرمائي: ❁ د **الله** پاک د رحمت نه مايوسه کيدل ❁ د **الله** پاک د مدد نه نا اميده کيدل ❁ **او خپل ځان د الله پاک د پټ تدبير نه محفوظ ګڼل پۀ کبيره ګناهونو کښې د ټولو نه غټ ګناهونه دي.** (2)

## د فرښتو او شيطان پۀ انداز کښې فرق

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! زمونږ پۀ معاشر کښې عجيبه عجيبه نفسيات وي ❁ مونږ چې کله څۀ عبرتناک څيز اُووينو ❁ د څۀ ويرې والا خبره واورو ❁ چې کله د دوزخ د عذابونو ذِکر کيږي ❁ د **الله** پاک د پټ تدبير پۀ باره کښې روايتونه اورولے شي نو مونږ ته داسې ښکاري چې دا خبرې زمونږ د پاره نه دي بلکې د نورو د پاره دي. دا چې کوم نفسيات دي دا ډير خطرناک دي. حُجَّةُ الْاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ يو ډير عبرتناک روايت ذِکر کړے دے، ليکي: شيطان د کوم نوم چې ابليس دے، هغۀ يو لاکھ 75 زره کاله پۀ اووم اسمان باندې عبادت وکړو، (د

---

1 ...وسائلِ فردوس، صفحہ:3،1 ملتقطاً۔
2 ...مکارم الاخلاق للطبرانی، صفحہ:217، رقم:125۔



www.dawateislami.net

جنّت داروغه) حضرت رضوان عَلَیۡهِ السَّلَام سره د یو زر [1000] کالو پورې خازِن وو. یو ځل شیطان په جنّت کښې په یو ځائے کښې لیکلي ولیدل چې په مَقَرَّبِینو (یعني د **الله** پاک په قرب لرونکو) کښې یو داسې دے، کوم ته چې به **الله** پاک یو حکم کوي خو هغه به د **الله** پاک نافرماني کوي، لهٰذا هغه به د **الله** پاک د دروازے نه رَټلے شوے شړلے شي او د هغهٔ ټول عبادتونه به د ذرو په شان والوځولے شي.

ابلیس دا خبره ولوسته خو هغهٔ هېڅ دا غور ونکړو چې دا خبره زما په باره کښې هم کیدے شي، هغه په خپل حال باندې مطمئین وو، د **الله** پاک د پټ تدبیر نه نهٔ ویریدو، هغهٔ هم دا وګڼل چې دا زهٔ نه یم بلکې بَل څوک به وي، نو هغهٔ د **الله** پاک په بارګاه کښې عرض وکړو: اے **الله** پاکه! ما ته اجازت عطا کړې چې زهٔ په دې نافرمانه باندې لعنت ولیږم، **الله** پاک ورته اجازت عطا کړو، نو دهٔ یو زر [1000] کاله په هُغه نافرمانه باندې لعنت لیږلو او دا پته ورته نه وه چې هُغه نافرمانه هم دے پخپله دے. (1)

اَللّٰهُ اَکۡبَرۡ! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا دي د **الله** پاک د پټ تدبیر نه نهٔ ویریدل...!! امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰهِ عَلَیۡه نور لیکي: یو داسې لیکل حضرت اسرافیل عَلَیۡهِ السَّلَام هُم په لوحِ محفوظ باندې ولوستل، دا یې چې ولوستل نو په هغوئي باندې ویره غالبه شوه (هغوئي دا وګڼل چې دا د کوم نافرمانه په باره کښې لیکلي دي، هغهٔ بَل څوک نه بلکې هم زهٔ یم، نو د **الله** پاک د ویرې د غلبې له کبله) هغوئي په ژړا شول، دومره یې وژړل، دومره یې وژړل چې د فرښتو پرې رحم راغلے، فرښتې د هغوئي نه راتاؤ شوې، پوښتنه یې ترې وکړه: تاسو دومره ډیر ولې ژاړئ؟ حضرت اسرافیل عَلَیۡهِ السَّلَام ووفرمائیل: ما په لوحِ محفوظ باندې یو لیک لوستلے دے، په هغې کښې د یو نافرمانه ذِکر دے (او زهٔ ویریږم

1... سلوة العارفین، باب احوال الانبیاء فی الخوف، جلد:2، صفحه:170۔



www.dawateislami.net

چې هسې نۀ هغۀ ليکل هم زما پۀ باره کښې نه وي). فرښتو چې دا واوريدل نو هغوئي هم دا سوچ وکړو چې هسې نه دا ليکل چرته زمونږ پۀ باره کښې نه وي، **نو هغه فرښتې هم د اللّٰه پاک د پټ تدبير د ويرې نه پۀ ژړا شوې.** (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا فرښتې دي، کومې چې معصومه دي، د دوئي نه هډو ګناه نه کيږي، دوئي چرې هم د **اللّٰه** پاک نافرني نه کوي، د دې باوجود غور وکړئ چې دوئي د **اللّٰه** پاک د پټ تدبير نه څومره ويريږي...!! بيا دلته د شيطان او د فرښتو انداز کښې فرق ته وګورئ! شيطان هم هغه ليکل ولوستل خو دے پۀ خپل حال باندې مطمئين وو، هغۀ دا وګڼل چې دا نافرمانه زۀ نۀ بلکې بَل څوک دے خو فرښتو داسې سوچ ونکړو بلکې ټول د ځان پۀ باره کښې اُوويريدل او ژړا يې شروع کړه...!!

**اللّٰه** پاک دې زمونږه انداز د خبيث شيطان پۀ شان نۀ کوي، ډير کم خلق دي چې ❁ د دوزخ د عذابونو پۀ باره کښې واوري او ❁ د قبر او آخرت د وحشتونو بيان واوري او ❁ د **اللّٰه** پاک د پټ تدبير پۀ باره کښې روايتونه واوري او د خپل ځان پۀ باره کښې غور کوي، عام طور خلق هم دا ګڼي چې ❁ پۀ ما هيڅ نه کيږي ❁ ما خو به ضرور **اللّٰه** پاک بخښي ❁ دا روايتونه ❁ دا عذابونه ❁ دا وحشتونه زما د پاره نۀ دي بلکې د نورو خلقو د پاره دي.

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! داسې سوچ مۀ کوئ! **اللّٰه** پاک بے نيازه دے، هغه د چا محتاج نه دے، زما پۀ باره کښې د **اللّٰه** پاک پټ تدبير څۀ دے، ما ته پۀ دې باره کښې سوچ کول دي، د دې فِکر کول دي ❁ زۀ نن نمونځ ګزاره يم، آه! که سبا نمونځ ګزاره پاتې نه شوم نو بيا به څۀ کيږي؟ ❁ زۀ نن نيک يم، که سبا زما نه د نيکۍ توفيق واخستے شي نو زما به څۀ کيږي؟ ❁ هئ! هئ! ما ته د توبې توفيق نه نصيب کيږي

[1] ...سلوة العارفين، باب احوال الانبياء في الخوف، جلد:2، صفحه:170۔

آه! زۀ ګناهونه نه پريږدم...!! افسوس! که پۀ دې کښې د **الله** پاک پټ تدبير وي،
آه! که زۀ د دنيا نه خپل ايمان سلامت ورړلو کښې کامياب نۀ شوم نو زما به څۀ کيږي...!! زۀ به څۀ کووم؟ د چا پۀ در کښې به پناه اخلم...؟

| | |
|---|---|
| کس کے در پر میں جاؤں گا مولیٰ | گر تُو ناراض ہوگیا یارب! |
| وقتِ رِحلَت اب آگیا مولیٰ | جلوۂ مصطفےٰ دکھا یارب! |
| قبر میں آہ! گھپ اندھیرا ہے | روشنی ہو پئے رضا یارب! |
| نورِ احمد سے قبر روشن ہو | وَحشَتِ قبر سے بچا یارب! (1) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کاش چې هٰغه خوش قِسمته زۀ وے...!!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نورو خلقو انجام به څۀ کيږي؟ زما سره د ناست ګس پۀ باره کښې به د **الله** پاک پټ تدبير څۀ وي؟ پۀ دې باره کښې ما ته د فِکر کولو ضرورت نشته، ما سره خو دا سوچ پکار دے چې زما انجام به څۀ کيږي؟ زما پۀ باره کښې به د **الله** پاک پټ تدبير څۀ وي؟ زمونږه بزرګانِ دِين هم داسې وو، هغوئي به د خپل انجام پۀ باره کښې فِکر مند اوسيدل. د مشهور وليُّ الله حضرت امام حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ پۀ باره کښې راځي، هغوئي يو ځل يو حديث شريف بيان کړو، چې پۀ هغې کښې د ټولو نه د آخري جنّتي ذِکر وو، مضمون يې څۀ داسې وو چې کله ټول جنّتيان جنّت ته او ټول دوزخيان دوزخ ته لاړ شي نو د ټولو نه پۀ آخره کښې به يو ګس د دوزخ نه راويستے شي او جنّت ته به داخل کړے شي.

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:80۔

امام حسن بصري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې کله دا روایت بیان کړو نو په لړزان شولو او اوئې فرمائیل: **کاش چې هُغه آخري جنّتي زهٔ یم...!!** خلقو ترینه پوښتنه وکړه: جناب! تاسو داسې ولې وایئ؟ اوئې فرمائیل: ځکه چې د هُغه دوزخي د دوزخ نه ازادیدل او جنّت ته تلل یقیني دي [یعني ایمان خو یې سلامت وړے دے]. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا د **الله** پاک نیکان بندګان دي، لږه اندازه ولګوئ چې دوئي به د **الله** پاک د پټ تدبیر نه څومره ویریدل، کاش چې مونږ ته هم د **الله** پاک د پټ تدبیر نه ویره نصیب شي، کاش چې مونږ ته د خپل انجام په باره کښې فِکر رانصیب شي.

| | |
|---|---|
| گناہوں سے توبہ کی توفیق دے دے | ہمیں نیک بندہ بنا یاالٰہی! |
| رہے خوف ہر دم بُرے خاتمے کا | ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی! (2) |

## پهٔ ایمان باندې د مرګ د چا سره ضمانت نشته

د **الله** پاک پهٔ کروړونو احسانونه دي چې هغهٔ مونږه انسانان پیدا کړي یُو او مسلمانان یې پیدا کړي یُو او د خپل حبیبِ مکرَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم ځولۍ مبارکه یې زمونږ پهٔ لاسونو کښې راکړې ده. پهٔ دې کښې هیڅ شک نشته چې مونږ مسلمانان یُو خو پهٔ مونږ کښې د چا سره هم د دې خبرې ضمانت نشته چې هغهٔ به تر مرګه پورې مسلمان پاتې کیږي. لکه څنګه چې بے شمیره کافران پهٔ خوش قِسمتۍ سره مسلمانان شي نو هم دغه شان د ډیرو بد نصیبو مسلمانانو مَعَاذَالله! پهٔ کُفر مره کیدل هم ثابت دي. او څوک چې د ایمان نه واوړي یعني مُرتَد مړ شي نو هغهٔ به د همیشه همیشه د پاره

---

1...تنبیہ الغافلین، باب المواعظ، صفحہ:353۔
2...وسائلِ فردوس، صفحہ:15۔

پۀ دوزخ کښې وي. الله پاک پۀ دويمه سيپاره سورۀ بقره آيت نمبر 217 کښې ارشاد فرمائي:

وَ مَنْ یَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِیْنِهٖ فَیَمُتْ وَ هُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓىٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِی الدُّنْیَا وَ الْاٰخِرَةِۚ-وَ اُولٰٓىٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِۚ-هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ(۲۱۷)

[مفهوم]ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او پۀ تاسو کښې کښې چې څوک د خپل دِين نه مُرتَد شي بيا هغه کافر مړ شي نو د هغوئي ټول اعمال په دُنيا او آخرت کښې برباد شول، او هغوئي دوزخيان دي او هغوئي به په هغې کښې هميشه اوسيږي.

*–*–*–*

ایماں پہ ربِّ رحمت ‘ دیدے تو استِقامت
دیتا ہوں واسِطہ میں تجھ کو ترے نبی کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پته نه لګي چې زمونږه خاتِمه به څنګه وي!

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د آدم (عَلَيهِ السَّلَام) اولاد پۀ مختلفو طبقو کښې پيدا کړے شول ❁ پۀ دوئي کښې بعضې مؤمِنان پيدا شول د ايمان پۀ حالت ژوندي پاتې شول او هم مؤمِنان به مړه کيږي ❁ بعضې کافران پيدا شول د کُفر پۀ حالت باندې ژوندي پاتې شول او هم کافران به مړه کيږي ❁ او بعضې مؤمِنان پيدا شول د مؤمِنانو ژوند يې تير کړو او د کُفر پۀ حالت به رُخصتيږي ❁ بعضې کافران پيدا شول، کافران ژوندي اوسيدل او مؤمِنان به مړه کيږي. (1)

1 ...ترمذی، کتاب الفتن، باب ما اخبر النبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَآلِہٖ وَسَلَّم...الخ، صفحہ:528، حدیث:2191۔



www.dawateislami.net

# نیک انسان غیر مسلمه مړ شو

حضرت اِمام ابو مُحَمَّد رحمۃُاللہِعلیہ فرمائي: درېږ زاهدان یو کال صرف د **الله** پاک پۀ بهروسه د خوراک څښاک د سامان اخستو نه بغیر د حج پۀ اراده د بیت الله شریف پۀ لور روان شول. پۀ لار کښې هغوئي د کافرو پۀ یو کلي کښې دمه اوکړه، پۀ هغه دریو واړو (زاهدانو) کښې یو کس یوه ښکلې کافره زنانه ولیده نو د هغۀ زړۀ د هغې پۀ لور مائله شو، چې کله دریو واړو د سفر اراده وکړه، نو هغۀ پۀ څۀ حیله بهانه د تللو نه انکار وکړو او بخپله هم هلته ایسار شو، د هغۀ د سفر دواړه ملګري لاړل او هغه یې پۀ هم هغه کلي کښې پریښودو، بیا هغۀ د خپل زړۀ خبره د هغې زنانه پلار ته وکړه، هغۀ ووئیل: د دې مهر ستا د پاره ډیر ګران دے تۀ د هغې وَس نه لرې. هغۀ پوښتنه وکړه: څۀ مهر یې دے؟ د هغې پلار ووئیل: تۀ اسلام پریږده او زمونږه دین اختیار کړه. نو هغه زاهد مُرتَد شو او د هغې زنانه سره یې نکاح وکړه او دوه بچي یې هم پیدا شول. آخر دا چې [ډیر زر] هغه د کُفر پۀ حالت کښې مړ شو. چې کله د هغۀ دواړه ملګري د سفر نه واپس راغلل او د هغۀ پۀ باره کښې یې معلومات وکړل نو هغوئي ته ووئیلے شو چې هغه خو غیر مسلمه مړ شوے دے او غیر مسلمو هغه پۀ خپله هدیره کښې ښخ کړے دے نو هغوئي د هغۀ قبر له لاړل، هلته یې یوه زنانه او دوه ماشومان قبر ته پۀ ژړا ولیدل نو هغه دواړه هم د لرې نه پۀ ژړا شول. زنانه د هغوئي نه پوښتنه وکړه چې تاسو ولې ژاړئ؟ هغوئي د هغۀ د عبادت، نمونځ، او زُهد ذِکر وکړو. چې کله هغې زنانه دا خبره واریدله نو د هغې زړۀ د اِسلام پۀ لور مائل شو او هغې د خپلو دواړو بچو سره اِسلام قبول کړو. حضرت شیخ ابو مُحَمَّد رحمۃُاللہِعلیہ د دې واقعې نه پس فرمائي: سُبْحٰنَ الله! څوک چې غیر مسلمه وو نو



www.dawateislami.net

هغوئي ایمان راوړو او مَعاذَالله څوک چې مسلمان وو هغه کافر مړ شو. نو مسلمان له پکار دي چې د خپل انجام ویره لري او د **الله** پاک نه د ښې خاتِمې سوال کوي. (1)

اَللهُ اَکْبَر! **خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** څومره د عبرت خبره ده...!! هُغه زنانه د کومې په عشق کښې چې هغه نیک انسان پاګل شو او د ایمان دولت یې پریښودو، د اِسلام نه یې مخ واړولو، آخر هغه مسلمانه شوه او دا بد انجامه کافر د دُنیا نه لاړو...!!

مسلماں ہے عطّار تیری عطا سے | ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی!(2)

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د الله پاک د پټ تدبیر نه ویریږئ!

حضرت عبد الله مُوصَلي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زمونږ په زمانه کښې یو غمژن ګس وو، چې هغه به د قَضِیبُ البَان (یعني د بان نومې وَنې د ښاخ) په نوم یادیدلو. د هغهٔ د احترام او د رعب او دبدبې په وجه به هیچا د هغه سره د خبرو جرأت نشو کولے. هغهٔ به ډیر زیات ژړل. قِسمت د هغه ګس په تنهایۍ کښې زهٔ د هغهٔ خوا له بوتلم نو ما د هغهٔ نه پوښتنه وکړه: اے زما عزیزه! زهٔ تاسو ته د هُغه ذات قَسم درکووم چې تاسو یې د خپل ذات نه علاوه د هر څیز نه بے نیازه کړي یئ! ستاسو د غم او د خلقو نه د جدا پاتې کیدو څهٔ وجه ده؟ هغهٔ ما ته وکتل او ډیر زیات یې وژړل بیا د هغهٔ رنګ بدل شو او بے هوشه شو. زما ګمان راغے چې هغه وفات شو. بهر حال چې کله هغه په هوش کښې راغلے نو ما په خبرو خبرو کښې هغه ځان ته راغب کړو او تسلي او دلاسه مې ورکړه او هغهٔ له مې

---

1...الروض الفائق، المجلس الثانی فی قولہ تعالٰی...الخ، صفحہ:16۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔



www.dawateislami.net

قَسم ورکړو او د هغهٔ [نه مې د هُغه] حالت پهٔ باره کښې پوښتنه وکړه نو هغهٔ پهٔ ژړا ژړا خپله واقعه بيان کړه چې ما به د خپل شيخ خدمت کولو، هغه پهٔ اَبدالو کښې وو، ما تر څلويښتو کالو پورې د هغهٔ خدمت وکړو، هغه ډير عبادت کوونکے وو. هغهٔ د خپل وفات نه درې ورځې مخکښې زهٔ راوبللم او اوئې وئيل: اے زما ځويه! اے د **الله** پاک بنده! زما پهٔ تا باندې او ستا پهٔ ما باندې حق دے. او پهٔ تا باندې زما پهٔ پوره حقونو کښې يو حق دا دے چې تهٔ زما خبرې پهٔ غور سره واورې او زما وصيت پوره کړې. ما عرض وکړو: پهٔ محبت او عزت سره به ستاسو وصيت پوره کووم. نو هغهٔ ووئيل چې زما درې ورځې ژوند پاتې دے او زهٔ به کافِر مړ کيږم. چې کله زهٔ مړ شم نو ما د خپلو جامو سره د شپې پهٔ تيارهٔ کښې پهٔ يو تابوت کښې کيږده او د ښار نه مې بهر فلانکي ځائے ته يوسه او د نـمر راختو پورې پهٔ هغه ځائے کښې ايسار شه، چې کله تهٔ يوې قافلې والا پهٔ راتلو ووينې چې د هغوئي سره هم يو تابوت وي نو هغوئي به هُغه تابوت زما خوا ته کيږدي او زما تابوت به يوسي، تهٔ هغه دويم تابوت راواخله او واپس راشه. بيا هُغه تابوت برسيره کړه او پهٔ هغې کښې موجود ګس راوباسه او د هغه سره هم هغه سلوک وکړه کوم چې پهٔ تا باندې لازم وو چې تا به زما سره کولو (يعنې هغه له غسل ورکړه او کفن دفن يـې کړه). دا مې چې واوريدل نو ما پهٔ ژړا ژړا پوښتنه وکړه: د دې معاملې څهٔ وجه ده؟ نو هغه جواب راکړو: اے زما ځويه! دا هر څهٔ پهٔ لوحِ محفوظ کښې ليکلے شوي دي، او مخکښې هم او وروستو هم د **الله** پاک حکم دے:

لَا یُسْــٴَـلُ عَمَّا یَفْعَلُ (پارہ:17،الانبیا:23)

[مفہوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: **الله** نه د هُغه کار مُتَعَلِّق تپوس نه کيږي کوم چې هغه کوي.

چې کله درې ورځې تيرې شوې نو زما شيخ بے قراره شو، رنګ يـې بدل شو، مخ يـې



www.dawateislami.net

تور شو او د مشرق په لور تاؤ شو او پرمخې راپريوتو او مړ شو. ما ډير وژړل او دومره غمژن شوم چې د **الله** پاک نه علاوه بَل چا ته پته نشته. بيا ما ته وصيت رایاد شو نو ما هغه په يو تابوت کښې کيښودو او چې کله شپه شوه نو کوم ځائے چې راته شيخ ښودلے وو تابوت مې هُغه ځائے ته يوړو او هلته مې کيښودو او ايسار شوم تر دې چې کله نـمر راوختو نو يوه ډله په ژړا فرياد کولو راغله، د هغوئي سره هم يو تابوت وو، هغوئي خپل تابوت د هغه تابوت يو اړخ ته کيښودو. په هغوئي کښې يو ګس رامخکښې شو او زما راوړے شوے تابوت يـې د ورلو د پاره اوچت کړو نو ما هغۀ راونيولو او ورته مې اُووئيل: چې تر څو پورې تۀ ما ته د ځان په باره کښې څۀ اونه وائې زۀ به تا نه پريږدم. نو هغۀ ووئيل: زۀ د دې غير مسلمه مذهبي مشر تر څلويښتو کالو پورې خادم پاتې شوم. هغۀ د خپل مرګ نه درې ورځې مخکښې زۀ راوبللم او اوئې وئيل: اے زما بچيه! زما په تا باندې او ستا په ما باندې حق دے. او په تا باندې زما په پوره حقونو کښې يو حق دا دے چې کله زۀ درې ورځې پس مړ شم نو تۀ ما په يو تابوت کښې کيږده او دا ځائے يـې راته ياد کړو او اوئې وئيل چې که چرې تۀ هلته بَل يو تابوت ووينې نو زما تابوت د هغه تابوت په ځائے هلته کيږده او هغه راوچت کړه او ګرجې ته يـې راوړه او زما سره چې څۀ معامله کول په تا باندې واجب دي هم هغه د هغۀ سره وکړه (يعنې د غير مسلمو په طريقه باندې مې ښخ کړه). چې کله درې ورځې تيرې شوې نو د هغوئي مخ د خوشحالئ نه روښانه شو، کلمه شهادت يـې ولوستله او مسلمان شو او وفات شو. بيا ما د هغوئي د حکم مطابق عمل وکړو او هغوئي مې دلته راوړل. (هغه بزرګ فرمائي) چې کوم تابوت هُغه خلقو راوړے وو، ما راوچت کړو او د کور په يو ګوټ کښې مې کيښودو او برسيره مې کړو نو چې اومې کتل په هغې کښې يو داسې بزرګ وو چې په مخ باندې

يـې د انوارو باران راوريدو، د هغۀ ټول ويښته سپين وو. ما هغه د تابوت نه راويستو او د فقراء سره پۀ شريکـه مې غسل ورکړو، مونږ جنازه مو وکړه او پۀ يو کوټ کښې مو ښخ کړو. **هغه ورځ ګواه ده چې کله هم زۀ بهر ووځم نو زما پۀ مخ باندې د بدې خاتمې د ويرې نه غم راخور شي. زما د خلقو نه د جدا اوسيدو سبب هم دا دے.** (1)

## شيطان به د خپلوانو پۀ جامه کښې د ايمان اخستلو د پاره راځي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دنيا ته خو مونږ راغلي يو خو اوس د دنيا نه د ايمان سلامت وړلو د پاره به د سختو سره مخ کيدل وي او بيا هم څۀ پته نه لګي چې خاتِمه به مو څنګه کيږي! آه! آه! آه! د مرګ پۀ وخت به شيطان د ايمان نه د خلاصولو کوشش کوي تر دې پورې چې د مور پلار پۀ شکل کښې به هم راځي او پۀ ايمان به حمله کوي او د کافرو د صحيح ثابتولو کوشش به کوي. يقيناً هغه به داسې نازکه موقع وي چې بس پۀ چا باندې د **الله** پاک خاص کرم او احسان وشي هم هغۀ به کاميابيږي او هم د هغۀ ايمان به سلامت پاتې کيږي. اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلسُنَّت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ليکي: د ځنکدن پۀ وخت دوه شيطانان د انسان دواړو اړخونو ته راشي او کښيني يو د هغۀ د پلار پۀ شکل کښې او دويم د هغۀ د مور پۀ شکل کښې. ❁ يو وائي: هُغه [فلانکـے] ګس يهودي مړ شوے وو تۀ (هم) يهودي شه ځکه چې هلته يهوديان پۀ سکون سره دي. ❁ دويم وائي: هُغه ګس نصراني (يعنې عيسائي د دنيا نه) تلـے وو تۀ (هم) نصراني (عيسائي) شه ځکه چې نصارىٰ (عيسايان) هلته پۀ سکون کښې دي. (2)

واقعي ده چې معامله ډيره نازکه ده، د ايمان د بربادۍ د ويرې نه د **الله** پاک د ويره

---

1 ...الروض الفائق، المجلس الثانی فی قولہ تعالٰی...الخ، صفحہ:18۔

2 ...فتاویٰ رضویہ، جلد:9، صفحہ:83۔



www.dawateislami.net

لرونکو زړونه ټوټې ټوټې کيږي.

## د يو عبادت کوونکي عبرتناک انجام

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! شيطان زمونږ ښکاره دښمن دے، دا خبيث هر وخت مونږ د خپل انجام نه د غافله ساتلو او دهوکه کولو او د دوزخ حقدار جوړولو کوشش کوي. لعنتي شيطان په کوم کوم انداز کښې خلق تير باسي او دوزخ ته يې غورځوي، يوه د سبق نه ډکه واقعه واورئ!

پهٔ کتابونو کښې ليکلي دي: بَرصِيصا نومې يو عبادت کوونکے وو، **الله** پاک هغهٔ ته ډير ژوند عطا کړے وو او هغه به د خلقو نه جُدا يواځې اوسيدو او د **الله** پاک عبادت به يې کولو، دوه سوه کاله يې داسې تير کړل چې د لږ سعت د پاره يې هم څهٔ ګناه ونکړه. د هغهٔ 60 زره شاګردان وو او ټولو ته د هغهٔ داسې فيضان حاصل وو چې پهٔ هوا کښې به الوَتل. خو افسوس! د **الله** پاک پټ تدبير پهٔ هغهٔ باندې غالب راغے.

**څهٔ داسې وشو** چې يو ځل شيطان د انسان پهٔ شکل کښې د بَرصِيصا د عبادت خانې خوا له راغے او د بهر نه يې دهٔ ته اواز وکړو، بَرصِيصا ووئيل: څوک چې د **الله** پاک عبادت کول غواړي، هغهٔ ته د دوست ضرورت نه وي. د بَرصِيصا جواب يې چې واوريدو نو شيطان د هغهٔ د عبادت د ځائے نه بهر ديره شو.

بيا د دې بد بخته د دهوکه کولو انداز ته وګورئ! شيطان خبيث درې ورځې د هغهٔ د عبادت خانې نه بهر پرله پسې عبادت وکړو، پهٔ دغه وخت کښې شيطان نه اوده شو او نه يې څهٔ خوراک څښاک وکړو. او پهٔ انساني شکل کښې وو او بَرصِيصا هم انسان ګڼلو، نو هغهٔ چې د دهٔ عبادت وليدو نو ډير زيات متاثره شو، بَرصِيصا ترينه پوښتننه وکړه چې



www.dawateislami.net

زما دوه سوه کاله وشو چې عبادت کووم خو ما ته تر اوسه پورې دا مرتبه حاصله نه شوه، ما ته د اوده کيدو هم ضرورت وي، د خوراک څښاک هم محتاج يم، (کاش چې ما هم ستا په شان عبادت کولے شوے...!! تا ته دا مرتبه څنګه نصيب شوه؟)

شيطان ووئيل: په اصل کښې خبره دا ده چې زما نه يوه ګناه شوې وه، چې کله ما ته هغه ګناه راياده شي نو زما حالت بدل شي، بيا زه نه وړے کيږم او نه تږے کيږم، او نه راله خوب راځي. تا څه ګناه نه ده کړې ځکه ستا دا حالت نه دے، که ته چرې زما په شان جوړيدل غواړې نو يوه ګناه وکړه، بيا به په تا باندې د **اللّٰه** پاک ويره غالبه شي او ته به هم زما په شان بغير د خورک څښاک نه مسلسل عبادت کولے شې. بَرصِيصا ووئيل: ما چې د کوم **رَبِّ** کريم دومره عبادت کړے دے، اوس زه د هغه نافرماني څنګه کولے شم؟ شيطان ووئيل: انسان چې کله ګناه وکړي نو د معذرت په لور ځي (د **اللّٰه** پاک نه ويريږي او د هغه نه د بخښنې سوالي جوړ شي، لهٰذا د دې کيفيت موندو د پاره به ته ضرور ګناه کوې).

د شيطان دا خبره چې يې واوريده نو بَرصِيصا دهوکه شو او اوئې وئيل: ښه ووايه کومه ګناه وکړم؟ شيطان ووئيل: بدکاري وکړه! بَرصِيصا انکار وکړو. شيطان ووئيل: څوک قتل کړه! بَرصِيصا په دې هم راضي نه شو. شيطان ووئيل: ځه بيا شراب وڅښه! په دې باندې بَرصِيصا راضي شو. هغه شراب واخستل او وې څښل او نشه شو، نو د نشې په حالت کښې هغه بدکاري هم وکړه او د ناحقه قتل ګناه يې هم وکړه. چې کله هغه دومره غټ جرمونه وکړل نو ونيولے شو او په دار د خيژولو سزا ور واورولے شوه، چې کله هغه د پهانسۍ تختې ته وخيژولے شو، نو شيطان خوا له ورغلے او ورته اوئې وئيل: تا زه بچ کولے شم، بس زما يوه خبره اومنه! د **اللّٰه** پاک نه انکار وکړه او ما ته سجده وکړه! آه! **200 کاله د ګناهونو نه بچ کيدونکے عبادت کوونکے بَرصِيصا د شيطان په جال کښې**



www.dawateislami.net

**راګير شو او شيطان ته يې سجده وکړه، چې څنګه يې کُفر وکړو نو پۀ هم هغه وخت مړ شو او بد بخته د ايمان نه خلاص شو او د دنيا نه مُرتد لاړو...!!** [1]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د ويريدو مقام دے، آه! د ويرې خبره ده، چې 200 کاله پۀ عبادت کښې د تيروونکې، د يوې ګناه هم نه کوونکې داسې خطرناک انجام شو نو مونږ چې ګنهګاران يو، زمونږ نه شپه ورځ پته نه لګي چې کوم کوم ګناهونه کيږي، مونږ د خپل انجام نه بے فِکره څنګه پاتې کيدے شو...!!

| | |
|---|---|
| مجھے ایسے عمل کی دے توفیق | کہ ہو راضی تری رضا یاربّ! |
| جس نے اپنے لئے برائی کی | ہے یہ نادان وہ برا یاربّ! |
| تو حسنؔ کو اٹھا حسن کر کے | ہو مع الخیر خاتمہ یارب![2] |

## د چا سره چې د ايمان د بربادۍ ويره نه وي...!!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** کاش چې د ايمان د سلامتيا مَدَني سوچ رانصيب شي، کاش چې هر وخت مو د بدې خاتِمې د ويرې نه زړۀ ريږيږي، چې بيا بيا مو پۀ ژبه د توبې او اِستِغفار سلسله جاري وي. چې د **الله** پاک د کرم د دربار نه مو په ژبه د ايمان د حفاظت خير غوښتل جاري وي. د ډيرې انديښنې خبره دا ده لکه څنګه چې د دنيائي دولت د حفاظت پۀ معامله کښې غفلت د هغې د ضائع کيدو سبب جوړيدے شي هم دغه شان بلکې د دې نه هم زياته سخته معامله د ايمان ده. پۀ **ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت** کښې دي: علمائے کرام فرمائي: **د چا سره چې د ايمان د بربادیدو ويره نه وي د ځنکدن پۀ**

---

[1] ...سلوۃ العارفین، باب الخوف سوء الخاتمہ، جلد:2، صفحہ:166-168۔
[2] ...ذوقِ نعت، صفحہ:85-87ملتقطاً۔



www.dawateislami.net

وخت د هغهٔ د ايمان د بربادېدو ډېره خطره ده. [1]

زندگی اور موت کی ہے یاالٰہی کشمکش
جاں چلے تیری رِضا پر بے کس و مجبور کی [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د وور صندوق

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د کوم بد قِسمته خاتمه چې پهٔ کُفر وشي هغه به قبر دومره پهٔ زوره دباوهي چې د يوې ډډې او بَلې ډډې پوښتۍ به يــې په يوې بله کښې ننوځي. د کافِر د پاره به داسې قِسمه نور دردناک عذابونه هم وي. د قيامت 50 زره اوږده سخته ورځ به يــې پهٔ وحشتونو کښې تيرېږي، بيا به هغه پړمخې راښکلے شي او دوزخ ته به وغورځولے شي. کوم گنهگاران مسلمانان چې دوزخ ته لاړ شي چې کله هغوئي راويستے شي او پهٔ دوزخ کښې صرف کُفار پاتې شي. پهٔ بهارِ شريعت کښې دي: بيا به پهٔ آخره کښې د کافِرانو د پاره دا وي چې د هغهٔ د قد برابر صندوق کښې به هغه بند کړے شي، بيا به پهٔ هغې کښې وور بَل کړے شي او د وور تاله به ورته ولگولے شي، بيا به دا صندوق د وور پهٔ بَل صندوق کښې کيښودے شي او د دې دواړو ترمينځه به هُم وور بَل کړے شي او دې ته به هم د وور تاله ولگولے شي، بيا به هم دغه شان هغه پهٔ بَل يو صندوق کښې کيښودے شي او د وور تاله به ورته ولگولے شي او وور ته به وغورځولے شي. نو بيا به هر کافِر دا گڼي چې د هغهٔ نه علاوه بل څوک پهٔ وور کښې نه دي پاتې، او دا د عذاب د پاسه

1...ملفوظات اعلیٰ حضرت، صفحہ:495۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:96۔



www.dawateislami.net

عذاب دے او بيا د هميشه د پاره د هغۀ د پاره عذاب دے. [(1)]

## مرګ به ذبح کړے شي!

چې کله ټول جنّتيان جنّت ته لاړ شي او په دوزخ کښې صرف هُغه خلق [يعنې صرف کافران] پاتې شي کوم چې به هميشه په هغې کښې اوسيږي، هُغه وخت به د جنّت او دوزخ په مينځ کښې مرګ د ګډ په شان راوستے شي، بيا به غږ کوونکے جنّتيانو ته غږ وکړي، هغوئي به په ويره سرونه ورښکاره کړي چې هسې نه د دې ځائے نه د وتلو حکم راته وشي، بيا به دوزخيانو ته غږ وکړي، هغوئي به په خوشحالۍ سره سرونه راښکاره کړي چې شايد د دې مصيبت نه خلاص شو، بيا به د هغه ټولو نه پوښتنه وکړي چې دا پيژنئ؟ ټول به وائي: آؤ! دا مرګ دے، هغه به ذبح کړے شي او وائي به: **اے د جنّت والؤ! هميش والے دے، بيا بۀ کله هُم مرګ نۀ راځي** او **اے د وور والؤ! هميش والے دے، بيا بۀ کله هُم مرګ نۀ راځي** ، هُغه وخت به د هغه [جنتيانو] د پاره خوشحالي وي او د هغه [دوزخيانو] د پاره به د غم د پاسه غم وي. نَسْأَلُ اللهَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدِّيْنِ وَالدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ . يعنې مونږ د **الله** پاک نه د دِين او دنيا د بهترۍ سوال کوو. [(2)]

## د بَدې خاتِمې ځلور اسباب

بعضې علمائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِمْ فرمائي: د بدې خاتمې ځلور اسباب دي: **(1)**: په نـمونځ کښې سستي **(2)**:شراب ښښل **(3)**: د مور پلار نافرماني کول **(4)**: مسلمانانو له تـکليف ورکول. [(3)]

---

[1]...بہارِ شریعت، جلد:1، صفحہ:170، حصہ:1۔
[2]...بہارِ شریعت، جلد:1، صفحہ:171، حصہ:1۔
[3]...شرحُ الصُّدور، باب علامۃ خاتمۃ الخیر، صفحہ:27۔



www.dawateislami.net

# د توبې درې ارکان

کوم اِسلامي ورونه چې مَعَاذَالله! نـمونځ نه کوي يا يـې قضا کوي او بيا يـې کوي، د خپل غفلت له کبله د سحر د نـمونځ د پاره نه راپاڅي يا بغير د څهٔ شرعي مجبورۍ نه پهٔ جومات کښې د جَمعې د نـمونځ کولو پهٔ ځائے هم پهٔ کور کښې نـمونځ کوي هغوئي له فِکر کول پکار دي چې هسې نه پهٔ نـمونځ کښې سستي د بدې خاتمې سبب جوړه نه شي. دغه شان د شرابي، د مور پلار د نافرمانه او مسلمانانو ته پهٔ خپله ژبه او لاس وغيره باندې ضرر رسوونکې دې رښتونې توبه وکړي.

صدرُ الافاضل حضرت علامه مولانا سيِّد محمد نعيم الدين مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د توبې اصل رُجوع اِلَی الله (يعنې د الله پاک پهٔ لور رجوع کول) دي د دې درې ارکان دي: (1): د خپل جرم اعتراف کول (2): پهٔ خپل جُرم پښيماني راوړل (3): د هغې ګناه د پريښودو پخه اراده. که ګناه قابلِ تلافي وي نو د هغې تلافي (يعنې د نقصان بدله ادا کول) هم لازم دي. مثلاً د نـمونځونو د قضا کولو د پاره د تيرو قضا کړے شوو نـمونځونو قضا راوړل هم ضروري دي.[1] او که حقوق العباد ضائع کړے شوي وي نو د توبې سره سره د هغې تلافي هم ضروري ده، مثلاً د مور پلار، خوئيندو ورونړو، ښځې يا دوست وغيره مو زړهٔ ازارولے وي نو د هغهٔ نه معافي وغواړئ چې هغهٔ مو معاف کړي. صرف مُسکې کيدل او Sorry وئيل د هرې معاملې د پاره کافي نه وي!

میں کرکے توبہ پلٹ کر گناہ کرتا ہوں | حقیقی توبہ کا کر دے شرف عطا یاربّ![2]

---

[1] ...خزائن العرفان، صفحہ:16۔
[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:78۔



www.dawateislami.net

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بَدي خاتِمې نور اسباب

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپله رساله "برے خاتمے کے اسباب" کښې د ایمان بربادیدو نور هم اسباب لیکلي دي، مثلاً ❁ چغلي کول د بَدي خاتِمې سبب دے ❁ شراب څښل د بَدي خاتِمې سبب دے ❁ حَسَد کول (یعني د نورو سره په نعمت لیدلو سوزیدل او د هغوئي نه د نعمت ضائع کیدو خواهش کول) هم د بَدي خاتِمې سبب دے ❁ بد نظري هم د بدي خاتِمې سبب دے ❁ د فرض کیدو باوجود حج نه کول ❁ د اذان کیدو په وخت په خبرو کښې مصروفه اوسیدل ❁ په ناپ تول کښې کمے کول هم د بَدي خاتِمې په اَسبابو کښې دي. (1)

## توبه اوباسئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ❁ نن د توبې شپه ده ❁ د **الله** پاک نه د بخښنې او مغفرت غوښتلو شپه ده ❁ د رَبِّ کریم په حُضُور کښې د حاضریدو شپه ده، د **الله** پاک سره د روغې کولو او د هغهٔ د رښتوني او فرمانبرداره بنده جوړیدو شپه ده. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د برکتونو والا سعتونه دي، نن د توبې په لور لا ړ شئ! نن مونږ د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کوو، د نن نه د پخې توبې نیت وکړئ چې ائینده به د ګناهونو په لور نه ځو ❁ ټول نـمونځونه به د جَمعې سره په جومات کښې کوو ❁ دروغ به هم نه وایو ❁ غیبت به هم نه کوو ❁ چغلي به هم نه کوو ❁ د چا سره به حسد هم نه کوو ❁ خپلو مسلمانانو ورونړو له به تکلیف هم نه ورکوو ❁ د نورو ګناهونو نه به هم هر وخت ځان بچ ساتو.

[1] ...برے خاتمے کے اسباب، صفحہ:7 تا 23 ملتقطاً۔



www.dawateislami.net

کاش چې نن شپه مونږ ته د رښتوني او پخې توبې توفيق رانصيب شي، کاش چې نن پۀ داسې توبه کښې کامياب شو چې د هغې نه پس چرې هم ګناه ونکړو، کاش چې زمونږه ايمان سلامت پاتې شي، څنګه چې مونږ پۀ دنيا کښې مسلمانان يو، کاش چې قبر ته هم مسلمان تللو کښې کامياب شو.

## د ښې خاتِمې د پاره مَدَني ګلونه

اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکي: حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **که د بدې خاتِمې نه اَمن غواړئ نو خپل ټول عمر د الله پاک پۀ اطاعت کښې تير کړئ او د هرې يوې ګناه نه ځان ساتئ،** ضروري دي چې پۀ تاسو باندې د عارفينو (يعنې د بزرګانِ دِين) پۀ شان ويره غالبه وي تر دې چې د دې پۀ وجه ستاسو ژړا او فرياد اوږده شي او تاسو هميشه غمژن اوسئ. څۀ مخکښې نور فرمائي: تاسو له د ښې خاتِمې پۀ تيارۍ کښې مشغوليدل پکار دي. هميشه د **الله** پاک ذِکر کوئ، د زړۀ نه د دنيا محبت اوباسئ، ګناهونو نه خپل اندامونه بلکې د زړۀ هم حفاظت کوئ، چې څومره ممکن وي نو بدو خلقو ته د کتو نه هم ځان ساتئ ځکه چې هغوئي ته کتلو سره هم پۀ زړۀ باندې اثر کيږي او ستاسو ذِهن د هغوئي پۀ لور مائله کيدے شي. (1)

مسلماں ہے عطّارؔ تیری عطا سے | ہو ایمان پر خاتِمہ یاالٰہی! (2)

## پۀ ايمان باندې د خاتِمې د پاره څلور اَوراد

يو کَس د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خدمت

---

1 ...برے خاتمے کے اسباب، صفحہ:31۔
2 ...وسائل بخشش، صفحہ:105۔



www.dawateislami.net

کښېي حاضر شو او عرض يـې وکړو چې زما د پاره په ايمان باندې د خاتِمې دعا وکړئ. هغوئي رحمۃاللہ‌علیه د هغه د پاره دعا وکړه او ارشاد يـې وفرمائيلو: (1): (روزانه) 41 کَرَته يَا حَیُّ يَا قَيُّوْمُ لَااِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ. اوّل او آخِر دُرُود شريف (2): د اوده کيدو په وخت د خپلو ټولو اَورادو نه پس سُوْرَۃُ الْکَافِرُوْن روزانه لوله د دې نه پس خبرې وغيره مه کوه، که ضرورت وي نو د خبرو کولو نه پس بيا د سُوْرَۃُ الْکَافِرُوْن تلاوت کوه چې دا د ټولو وظائفو په آخر کښې راشي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! خاتِمه به دې په ايمان باندې کيږي. او(3): 3 کَرته سحر او 3 کَرَته ماښام د دې دُعا وِرد کوه: اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ نُّشْرِكَ بِكَ شَيْأً نَعْلَمُه، وَنَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَانَعْلَمُه.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې هم پوره پوره برخه اخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه درنصيب شي. د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د سحر نـمونځ د پاره راپاڅول** هم دے. **د سحر نـمونځ د پاره راپاڅول**، د آخري نبي، نبئ اُميّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. ❁ د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به د سحر د نـمونځ د پاره تللو نو اوده [کَسان] به يـې راپاڅول [2] ❁ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنه هم دغه

[1] ...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحہ: 311۔
[2] ...ابو داوٗد، صفحہ: 208، حدیث: 1264۔



www.dawateislami.net

انداز وو [1] او ❁ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عليُّ الْمُرتَضٰی رضی اللہ عنہ به هم پۀ دې ښکلې سُنَّت باندې عمل کولو. [2]

**تاسو هم دا سُنَّت اختيار کړئ!** د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډير برکتونه به درنصيب شي ❁ چې نور راپاڅوئ نو تاسو ته به هم د سحر د نـمونځ د جَمعې سره د کولو سعادت نصيب کيږي ❁سحر سحر به د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب حاصلوئ ❁ستاسو پۀ راپاڅولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئي ته هم حاصليږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ستاسو پۀ اعمال نامه کښې به هم ليکلے کيږي. ❁ سحر وختي به د پيدل ګرځيدو موقع پۀ لاس درځي نو صحت به مو هُم ښۀ کيږي ❁ يوه اهمه فائده به دا هم کيږي چې جومات ته به ډير خلق راځي، د يو اِسلامي ورور بيان دے چې مونږ پۀ ځنګ کښې د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول شروع کړل نو نـمونځ کوونکي دومره زيات شو چې د جومات پۀ دالان کښې مو ورته [د ځنګ نه بچ کولو د پاره] تمبوان [شاميانې] ولګولې. سُبْحٰنَ الله!

هيڅ ګرانه نۀ ده، د جَمعې د وخت نه 20، 25 منټه مخکښې راپاڅئ! د سحر نـمونځ له خو هسې هُم تلل دي، [نـمونځ له د راپاڅولو د پاره] آواز کوئ او ځئ! جومات ته به هم ورسئ او د **الله** پاک پۀ فضل سره به د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ. نيت وکړئ! چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د سحر د نـمونځ د پاره به خلق راپاڅووم.

## د مدينے د سفر سعادت نصيب شو!

د پنجاب د علاقې اِلٰه آباد (ضلع قصور) د اوسيدونکي يو اِسلامي ورور د بيان

---

[1] ...مشكاة المصابيح، جلد:1، صفحه:244، حديث:1240 ماخوذاً۔
[2] ...تاريخ الخلفاء، صفحه:112 ماخوذاً۔



www.dawateislami.net

خلاصه دا: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره تعلق خو لرلو خو د ديني کارونو په لړ کښې په سستئ کښې ګير ووم، يوه ورځ يو ذمه دار اسلامي ورور زۀ پوهه کړم او د ديني کار کولو او خاص طور د **سحر د نـمونځ د پاره د مسلمانانو د راپاڅولو** د ديني کار په پوره پابندئ سره د کولو ترغيب يـې راکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما ذهن جوړ شو او ما هم د بَلې ورځ نه په دې باندې عمل شروع کړو. د سحر د نـمونځ د پاره مې د مسلمانانو په راپاڅولو لاس پورې کړو، د **الله** پاک او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم وشو، بخت مې څۀ داسې رابيدار شو چې هم په هغه کال ما ته د مدينے د حاضرئ سعادت رانصيب شو، نور کرم دا هم اوشو چې زما مشر ورور ته هم د حج سعادت نصيب شو.

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خُدا مدنی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول |
| سنور جائے گی آخرت اِنْ شَآءَ الله! | تم اپنائے رکھو سدا مدنی ماحول |

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي په ټوله دنيا کښې د نيکئ دعوت عام کوونکے د عاشقانِ رسول ديني تحريک دے. د **الله** پاک په فضل سره ❁دعوتِ اِسلامي د اتياؤ [80] نه په زياتو شعبو کښې ديني فريضې ترسره کوي ❁دعوتِ اِسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جوماتونه او په سوؤنو فيضانِ مدينه (مَدَني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ماشومانو هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ته د قرآنِ پاک بيل بيل تعليم ورکولو د پاره تر اوسه پورې تقريباً 12 زره او 699 مدرسة الـمدينه (بوائز، ګرلز) جوړې کړے شوې دي، په دې مدرسو کښې



www.dawateislami.net

تقريباً 3 لاکهه او 73 زره ماشومانو هلکانو او جينکو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکولے شي (نوټ: په دې فهرست کښې مدرَسَةُ الْمَدِينه شارټ ټائم بوائز، ګرلز هُم شاملې دي) ❁ د عِلمِ دين عام کولو د پاره (د عالِم او عا لِـمې کورس کولو) د پاره بيلې بيلې جامعة الـمدينه جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقريباً 1500 جامعة الـمدينه (د هلکانو او جينکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، پۀ دې جامعاتو کښې تقريباً يو لاکه او 24 زره طلبه و طالباتو ته درسِ نظامي (يعنې د عالِم او عا لِـمې کورس او د فيضانِ شريعت کورس) مفت کولے شي. تر اوسه پورې تقريباً 31 زره او 211 طلبه و طالباتو عالِم او عالِـمه کورس او فيضانِ شريعت کورس مکمل کړے دے. پۀ لکونو حافظانو، قاريانو، امامانو، مبلغانو، مُعَلِّمانو، عالِـمانو او مفتيانو تيارولو سره سره د اُمّت د اِصلاح او کردار سازۍ کار روان دے ❁ 14 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت پۀ شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي، پۀ دې کښې اوسطاً تقريباً د يو لاکه 70 زره سوالونو جوابونه ورکولے شي. او ❁ پۀ الـمدينةُ العلميه **(Islamic Research Center)** کښې پۀ مختلفو موضوعاتو باندې 932 ديني کتابونه چاپ کړے شوي دي او دا سلسله لا روانه ده ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه **مَدَني چينل** دا وخت پۀ درې ژبو پۀ اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې پۀ سيټلائټ روان دے. **تاسو هم د دين د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده پۀ هر قِسمه جائز، ديني، اصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې پۀ کارونو کښې لګيدے شي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## پهٔ لیـلة الـجائزه کښې د عبادت ترغیب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! آه...!! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت زمونږ نه جدا کیږي، دا ښکلې میاشت مونږ پریږدي، د دې مبارکې میاشت هر سعت د رحمت نه ډک دے، الله پاک که یو اړخ ته مونږ ته د لیـلة الـقدر پهٔ شان عظیمه شپه عطا کړې ده نو بَل اړخ ته یـې د دې مبارکې میاشتې نه فوراً پس لیـلة الـجائزه یعنې د انعام شپه هم راعطا کړې ده ❁پهٔ دې شپه باندې الله پاک خپل رحمتونه نازلوي ❁دا د بخښنې میاشت ده ❁دا شپه د خپل رَبّ د عبادت کولو شپه ده چې کوم بنده پهٔ دې شپه کښې د الله پاک عبادت اوکړي الله پاک د هغهٔ د پاره جنّت واجب کړي. (1) ❁کوم بنده چې دا شپه د الله پاک پهٔ عبادت کښې تیره کړي الله پاک به د هغهٔ زړهٔ نه مړ کوي. پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: چا چې د عیدَین (یعنې وړوکي اختر او غټ اختر) پهٔ شپه د ثواب د طلب د پاره قیام [عبادت] وکړو، پهٔ هغه ورځ به د هغهٔ زړهٔ نه مړ کیږي، پهٔ کومه ورځ چې به (د خلقو) زړونه مړه شي. (2) ❁ټول عاشقانِ رسول خصوصاً اعتکاف کوونکو له پکار دي چې دا شپه پهٔ جوماتونو کښې د الله پاک پهٔ عبادت کښې تیره کړي چې حضرت ابراهیم نَخَعي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: بزرګانِ دِین رحمۃ اللہ علیہم به د اعتکاف کوونکو د پاره دا خبره خوښوله چې د وړوکي اختر شپه هم پهٔ جومات کښې تیره کړي. (3)

## د شش عید د روژو ترغیب

---

1 ...الترغیب والترہیب، کتاب العیدین، الترغیب فی احیاء لیلتی العیدین، صفحہ:373، حدیث:2۔

2 ...ابن ماجہ، کتاب الصیام، باب فیمن قام فی لیلتی العیدین، صفحہ:284، حدیث:1782۔

3 ...فیضان رمضان، صفحہ:279، 280۔



www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د رَمَضانُ المُبارَك نه پس د شوّالُ الْمُكَرَّم مياشت ده. خوش نصيبه مسلمانان په دې مياشت کښې د واړه اختر نه پس د 6 روژو نيولو سعادت حاصلوي. راځئ چې د دې روژو فضائل واورو ✿په حديثِ پاک کښې دي: چا چې د رَمَضان روژې ونيولې بيا يـې د هغو نه پس 6 روژې په شَوّال کښې ونيولې نو هغه د ګناهونو نه داسې اُووتو لکه هُم نن چې د مور د ګېډې نه پيدا شوے وي.[1] ✿ چا چې د رَمَضان روژې ونيولې بيا يـې د هغو نه پس 6 روژې په شَوّال کښې ونيولې نو هغه داسې دے لکه د ټول عمر روژه يـې چې ونيوله.[2]✿خَليلِ مِلَّت مفتي محمد خليل خان برکاتي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس مسلسل ونيولے شي نو بيا هُم باک نشته او بهتره دا ده چې په هره هفته کښې دوه روژې ونيسي. او که د اختر په دويمه ورځ يوه روژه ونيسي او نورې په پوره مياشت کښې [چې کله اوغواړي] ونيسي نو نور هُم مناسب معلوميږي.[3]

## د اختر پۀ شپه پۀ مَدَني قافلو کښې د سفر ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت د يو خو ورځو ميلمنه ده او ډيره زر به زمونږ نه رخصت شي. بيا به اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيم! د اختر شپه راشي. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! هر کال د اعتکاف سعادت حاصلوونکو خوش قِسمتو اِسلامي وروڼو او نورو عاشقانِ رسول يوه شميره "د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اِصلاح د کوشش" پۀ مقدسه جذبه پۀ دې شپه د مَدَني قافلو مسافران جوړيږي. هسې خو دا ډير ګران کار دے خو ياد ساتئ د نيکۍ دعوت ورکول او د

---

1 ... مجمع الزوائد، كتاب الصيام، باب فيمن صام...الخ، جلد:3، صفحه:322، حديث:5102۔
2 ... مسلم، كتاب الصيام، باب استحباب صوم...الخ، صفحه:424، حديث:1164۔
3 ... سنی بہشتی زیور، صفحه:347۔

دې پۀ لار کښې سختو سره مخ کيدل سُنّتِ انبياء دي ❁ انبيائے کرام ❁ صحابۀ کرام ❁ او نيکان خلق به د نيکۍ د دعوت د پاره د کورونو نه وتل ❁ لرې لرې علاقو ته به تلل ❁ هجرت به يې کولو او ❁ سختو سره به مخ کيدل او د دِين پيغام به يې عام کولو ❁ هم د مخکښينو خلقو پۀ قربانو باندې مونږ ته دين رارسيدلے دے.

تاسو هم د اختر د شپې نه پۀ مَدَني قافله کښې د سفر کولو نيت وکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډېر برکتونه به درنصيب شي ❁ پۀ مَدَني قافله کښې فرض عِلم دِين ښودلے شي ❁ سُنّت ښودلے شي ❁ د تهجدو کولو سعادت نصيب کيږي ❁ د نيکۍ د دعوت عام کولو موقع ميلاويږي ❁ د قافلې پۀ برکت سره د دعاګانو قبليدو ❁ د مشکلاتو ختميدو ❁ د بيمارو نه د شِفا ميلاويدو هم پۀ سوونو واقعات دي ❁ داسې هم شوي دي چې پۀ مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے او پۀ خوب کښې يې تشريف راوړے دے او پۀ مَدَني قافله کښې شرکت کوونکو باندې يې د ديدن جامونه څښلي دي. **الله** پاک دې مونږ ته هم د عمل کولو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د څينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغۀ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به پۀ جنّت کښې زما سره وي. (1)

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔



www.dawateislami.net

ہر کام شریعت کے مطابِق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: په ټولو رانجو کښې بهتر رانجه اِثمد دي ځکه چې دا نظر روښانه کوي او بانه راټوکوي. [2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو! د کاڼي د رانجو په استعمالولو کښې هیڅ باک نشته او ❁تور رانجه یا ګجَل د ښائست حاصلولو په نیت سره د نارینؤ د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست یې مقصد نه وي نو بیا مکروه نه دي ❁رانجه د شپې د اوده کیدو په وخت پورې کول سُنَّت دي ❁د رانجو پورې کولو د 3 منقول طریقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کیږي: (1):که په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلایانې (2):کله په ښۍ سترګه کښې 3 سلایانې او په ګڅه سترګه کښې 2 (3):او کله په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بیا په آخِره کښې یوه سلائي په رانجو کښې ووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په دریو واړو طریقو باندې عمل کیږي.

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو! د تکریم چې څومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د ښي اړخ نه شروع کول، ځکه وړومبے په ښۍ سترګه کښې رانجه پورې کوئ بیا په ګڅه کښې. [3]

---

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:115۔

[2]...ابن ماجہ، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحہ:566، حدیث:3497۔

[3]...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:38۔



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتھم العالیه د 91 صفحو رساله 550 **سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر هم دے.

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| عِلم حاصِل کرو! جَہل زائِل کرو! | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.